# د یوحنا رسول دوهم لیک

## د کتاب پېژندنه

د یوحنا رسول دوهم لیک یوې غوره مېرمنې او اولادونو ته یې د ۸۵ نه تر ۹۵ میلادي کلونو په شاوخوا کې لیکل شوی دی. د غوره شوې مېرمنې معنی په هغه ځای کې سیمه ایزه کلیسا ده، او د هغې اولادونه د هغې کلیسا د غړو په معنی ده. کومو خلکو چې دا لیک تر لاسه کړی دی، یوحنا هغوی هڅولي دي چې د عیسی سره مینه وکړي، یو د بل سره مینه وکړي او په خپل ایمان کې ټینګ پاتې شي. یوحنا د دروغجنو استاذانو په هکله خبرداری ورکوي او هغوی ته وایې چې که چېرې کوم څوک درشي او هغه تعلیم درنه کړي چې مسیح درکړی ؤ، هغه په خپل کور کې د مېلمه په توګه قبول نه کړئ.

## د موضوعګانو لست


سلامونه: ۱ – ۳
د مینې غوره والی: ۴ – ۶
د غلطو عقیدو په هکله خبرداری: ۷ – ۱۱
وروستی خبرې: ۱۲ – ۱۳


## سلامونه

۱ د ایماندارانو د مشر له خوا د خدای غوره شوې میرمنې او د هغې اولادونو ته چې په رښتیا
راباندې ګرانه ده، یوازې په ما باندې نه، بلکې په هغو ټولو باندې چې د حقیقت څخه خبر دي، ۲

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د هغه حقیقت په خاطر چې په مونږ کې دی او تل ترتله به زمونږ سره وي.

۳ د پلار خدای او د هغه زوی عیسی مسیح فضل، رحم او سلامتي دې وي په مونږ باندې،
ترڅو دا ټول په مونږ کې چې په حقیقت کې اوسېږو او یو د بل سره مینه کوو پاتې وي.

## حقیقت او مینه

۴ کله چې ما واورېدل چې ستا ځینې اولادونه لکه څنګه چې پلار مونږ ته حکم کړی دی په
رښتینې لار روان دي، نو ډېر خوشحاله شوم. ۵ اوس ای ګرانې میرمنې! زه ستاسو نه یوه
غوښتنه کوم چې د خدای خلک باید د یو د بل سره مینه وکړي. داسې فکر مه کوه چې زه تاته کوم
نوی حکم لیکم بلکې دا هماغه حکم دی چې له پیل نه مونږ ته راکړل شوی ؤ. ۶ دا مینه داسې
ده چې مونږ باید د خدای په حکمونو باندې عمل وکړو. دا هماغه حکم دی چې تاسو له پیل نه
اورېدلی دی او هغه حکم دا دی چې تاسو باید په مینه کې ژوند وکړئ.

۷ ډېر غولوونکي په نړۍ کې خواره شوي دي چې دا نه مني چې عیسی د انسان په جسم نړۍ
ته راغلی دی. داسې خلک غولوونکي دي او د مسیح دښمنان دي. ۸ خبردار اوسئ چې مونږ د
کوم څه دپاره خواري کړې ده چې هغه لاسته راوړو، هغه برباد نه شي بلکې خپل پوره اجر تر لاسه
کړو.

۹ هرڅوک چې د مسیح په تعلیم باندې ټینګ پاتې نه شي او د هغه نه وګرځي، نو خدای د هغه
سره مل نه دی. خو که چیرې څوک د هغه په تعلیم باندې ټینګ ولاړ وي نو د هغه سره به پلار او
زوی دواړه مل وي. ۱۰ که چیرې کوم څوک تاسو ته راشي او هغه تعلیم درنه کړي چې مسیح
درته درکړی ؤ، هغه په خپل کور کې د مېلمه په توګه قبول نه کړئ او تر دې چې سلام هم ورته ونه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وایئ. ۱۱ ځکه چې هرڅوک چې هغه ته سلامووایي نو هغه د هغه په بدو کارونو کې شریک دی.

## وروستنی خبرې

۱۲ زما سره ډېرې خبرې شته چې غواړم تاسو ته یې ولیکم، خو زه نه غواړم چې هغه تاسو ته په
قلم او کاغذ باندې ولیکم. زه په دې هیله یم چې راشم او تاسو ووینم او مخامخ درسره خبرې وکړم
ترڅو زمونږ خوشحالي پوره شي. ۱۳ ستا د غوره شوې خور بچیان درته سلام وایي.

تاسو پوښتني لرئ؟ +1 807.700.6699
afghanbibles.org © د ختیځ افغانستان ۲۰۲۱
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.